د افغانستان اسلامی امارت

د لوړو زده کړو وزارت

# دفراه د لوړو زده کړو مؤسسې او د نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسې ترمنځ هوکړه لیک

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

دا تفاهم لیک د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې او د نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسې ترمنځ د علمي فعالیتونو او ګډو همکاریو د ترسره کولو په موخه لاسلیک کیږي .

**سریزه :**

دا هوکړه لیک د قران کریم د دې لاربښوونې په اساس کیږي، چې :

**( [وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ  المائدة :2]).**

په دې آیت شریف کې الله جل جَلاله خپلو بنده ګانو ته دا ښيي، چې په ښو او نېکو کَارونو کې یو له بلّ سره مرسته او همکاري وکړئ، څکه دنیاوي کارونه له تعاون او همکاری پرته سرته نه رسېږي. انسانان په دې دنیا کې حتمي یو بل ته احتیاج پیدا کوي او یوازې الله جل جلاله دی، چې چاته محتاج نه دی او بې نیاز دی. دې اصل ته په کتو سره د نیمروز لوړو زده کړو مؤسسه او د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي، چې یو بل سره د دوه اړخیزو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک کړي. تر څو وکولای شي له دې لارې یو له بل سره په علمي، څېړنیزو او اداري چارو کې مرسته او همکاري وکړي .د هوکړه لیک موارد په لاندې ډول دي:

**د هوکړه لیک اړخونه :**

دا هوکړه لیک د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې او د نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسې ترمنځ لاسلیک کیږي، له دې وروسته ددوی لپاره (طرفین) لفظ کارول کیږي.

**لومړۍ ماده : د علمي او تحقیقي پروګرامونو برخه :**

**د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې همکاري به په لاندې ساحو کې وي:**

١. د فراه دلوړو زده کړو مؤسسه به په خپل علمي او څېړنیز ژورنال کې دنیمروز دلوړو زده کړو مؤسسې د استادانو علمي مقالې خپروي.

٢. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به د نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسې استادانو ته د SCL _ OBE او نورو لازمو ورکشاپونو زمینه برابروي.

٣. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به د نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسې د اړتیا په صورت کې محصلانو ته د ویډیو کنفرانس په واسطه په تدریسي چارو کې مرسته کوي.

۴. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به په خپلو ملي او نړۍ والو کنفرانسونو او پروګرامونو کې نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسې ته د ګډون بلنه ورکوي.

۵. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه به د نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند د لابراتوارونو تکنیشنان د هغوی د رشتې مطابق روزي، البته (د دواړو تحصیلي بنسټونو په موافقه او د امکاناتو په دائره کې).

**د نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسې همکاري به په لاندې ساحو کې وي:**

۱ که چیرې د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې رهبري وغواړي په نیمروز کې په کومه برخه باندې تحقیق تر سره کړي، نو په هغه صورت کې د نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو تحقیقاتي امکاناتو څخه استفاده کولای شي.

۲ نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو پوهنځیو اړوند مسلکي پرسونل به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو هغه پروګرامونو په تطبیق کې مرسته کوي کوم، چې د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې له خوا په نیمروز ولایت کې پلي کیږي.

۳ دا چې نیمروز ولایت د ځینو کرنیزو نباتاتو اصلي ټاټوبی دی، نو د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې په غوښتنه به نیمروز د لوړو زده کړو موسسه د همدې کرنیزو نباتاتو په اړه د معلوماتو په راټولولو کې مرسته کوي.

۴ نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسه به د امکان تر بریده د خپلو څیړونو معلومات د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې سره شریکوي.

۵ که چیرې نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسه د هیواد په سطحه کوم پروګرام جوړوي، نو د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې استازو ته به د ګډون بلنه ورکوي.

**دویمه ماده : دوه اړخیزه همکاري:**

۱. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه او نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسه به په دواړو مؤسسو کې د یوې مشترکې څیړنیزې ساحې پر تشکیل ګډ کار کوي.

۲. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه او نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسه به د لوړو زده کړو وزارت په تائید په ګډو څیړنیزو ساحو کې په ګروپي ډول تحقیقات ترسره کوي.

۳. د امکان په صورت کې به دواړه اداري (د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه او د نیمروز د لوړو زده کړو موسسه) کوښښ کوي، چې په مشترک ډول په علمي او اداري برخو کې ځیني ضروري ورکشاپونه ترتیب کړي.

۴. د ضرورت په اساس دواړه کولای شي ترڅو د مؤقت وخت له پاره د یو بل له ماشین الاتو او لابراتواري توکو څخه استفاده وکړي.

۶. دواړې اداري (د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه او د نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسه) به یوه دوه اړخیزه د همکارۍ شورا یا مجلس رامنځته کوي او د دواړو خواوو استازي به په کې برخه لري. (دا مجلس به څلور غړي ولري، چې دوه غړي به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسې او دوه غړي به نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسې څخه وي) دا څلور کسیزه مجلس به د دې هوکړه لیک د اجراء مسولیت ولري او پر خپل وخت به د قوانینو په رڼا کې اجراآت کوي همدارنګه د دې هوکړه لیک د چارو د اجرا څارنه به کوي او د مجلس به د شرایطو او اړتیاوو مطابق جوړیږي.

۷. دواړه لوري به د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوونې په پروسه کې یو له بل سره مرسته کوي.

۸. طرفین به د خپلو کتابتونونو څخه د استفادې له پاره یو او بل ته زمینه برابروي.

**دریمه ماده: د معنوي دارایی حقوق:**

۱ که چیرې فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو او محصلانو او یا هم نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو له خوا یا محصلانو له خوا کوم فعالیت ترسره کیږي، له نتایجو څخه به یې دواړه اداري استفاده کوي او دواړه پوهنتونونه یې د سوداګرۍ کولو حق لري. (البته د طرفینو د موافقې په صورت کې).

۲ په هغه صورت کې، چې یو تحقیق د یادو پوهنتونونو څخه په شخصي او تنهایي ډول سر ته ورسیږي او یا د تحقیق نتایج د یو خاص شخص په واسطه ترلاسه شي، د IPR حق او امتیاز یوازې د هغه اداري په برخه دی.



Scanned with CamScanner